نړیوال سوله ساتي ځواکونه
افغانستان

# د رسنیو د میشته کیدو د غوښتنې ټولګه

ضمایم:

- د رسنیو د میشته کیدو غوښتن پاڼه
- د رسنیو د نومونو د ثبتولو پاڼه
- د آیساف د رسنیو ساحوي مقررات
- د رسنیو په واسطه د آیساف د خسارې د جبران او ابراء خط تفاهم لیک
- د رسنیو د استازي په واسطه د آیساف د خسارې د جبران او ابراء خط تفاهم لیک
- د رسنیو د سمبالولو لارښود

ستاسي له مینې څخه د آیساف د عملیاتو په هکله د رپوټ جوړولو لپاره مننه.

د آیساف د ګډې قوماندانی (IJC) د عامه چارو د اړیکو دفتر (PAO) د ټولو هغو رسنیو لپاره چې د رسنیو د میشته کیدو د پروسې په هکله د مالوماتو غوښتنکي وي او یا د آیساف له ځواکونو سره د ځانګړې اوسیدنې غوښتنکی وي، لمړنی مرجع بلل کیږي. د آیساف د ګډې قوماندانی (IJC) د عامه چارو د اړیکو دفتر (PAO) ستاسي د غوښتنې د اجرا د آسانتیا لپاره، د رسنیو د میشته کیدو ټیم (TEM) جوړ کړی دی.

آیساف سپارښتنه کوی ترڅو هغه رسنۍ چې افغانستان ته دننه کیږي، له آیساف سره د میشته رسنیو اعتبار لیک په لاس راوړی. د اعتبار لیک د لاس ته راوړلو پروسه په دغه انټرنټي پته کې په تفصیل تشریح شوی ده http://www.isaf.nato.int/media-visit-information.html. د آیساف له ځواکونو سره د میشته کیدو لپاره د آیساف د اعتبار لیک لاس ته راوړل اړین ګڼل کیږي. ټولې رسنۍ ښایي چې د آیساف هرې اډې ته د ننوتلو څخه دمخه د عامه چارو له ساحوي دفتر څخه د لیدو لپاره وخت ونیسي.

د آیساف د ګډې قوماندانی د عامه چارو د اړیکو دفتر د میشته کیدو په موده کې د ژورنالیستانو د اړتیاوو د پوره کولو څخه د ډاډ ترلاسه کولو ته ډېر اهمیت ورکوي. لدې کبله مونږ ستاسي د بریالي میشته کیدو څخه د ډاډ د ترلاسه کولو په موخه د امکان ترحده پورې مالوماتو ته اړتیا لرو. د رسنیو غوښتن پاڼه (MER) زمونږ لپاره د اړینو مالوماتو د لاس ته راوړلو په موخه د هر جزوتام له وړتیاوو سره سم ستاسي د خبري پوښښ د اړتیاوو د مناسبې مطابقت ورکونې لپاره طرحه شوې ده ترڅو نوموړی جزوتام ستاسي له کتنو څخه ملاتړوکړی. بشپړ شوې غوښتن پاڼې ښایي چې د آیساف د ګډې قوماندانی د رسنیو د میشته کیدو ټیم او یا د اړونده ساحوی قوماندانی د رسنیو د میشته کیدو ټیم ته وسپارل شي.

د رسنیو د میشته کیدو ټیم د بشپړو غوښتن پاڼو د رسیدو سره سم د اړونده ټرانسپورټي وسایطو او د رسنیو د میشته کیدو د معیاري عملیاتي کړنلارو سره په سمون کې او ستاسي له حال سره مناسب د ساحوي قوماندانی په اړونده جزوتامونو کې د نوموړې غوښتنې هم غږې کوي. د جزوتامونو قوماندانان پدې هکله چې آیا ستاسي غوښتنه په غوښتل شوي زماني چوکاټ کې د ګڼو عواملو په پام کې نیولو سره د اجرا وړ ده، تصمیم نیسی. د اړینو هم غږیو د بشپړیدو څخه وروسته به تاسي د منلو یا نه منلو یو ایمیل لاس ته راوړی. د منلو په صورت کې به ځانګړې لارښوونې او د دعوت لیک یو امر (ITO) لاس ته راوړی. هیله کیږي چې دغه سند په پام سره ولولی. **تر هغه پورې چې تاسي ته تاییدي او د دعوت لیک امر نه وی سیدلی ستاسی میشته کیدل له آیساف سره جواز نلري. رسنۍ د سفر د ترتیباتو په هکله د تاییدی د لاس ته راوړلو څخه د مخه باید محتاطې وی.**

**ټول هغه ژورنالیستان چې د کتنو لپاره راځي باید د ساتنې خولۍ او زره له ځان سره ولري.** هر هغه ژورنالیست چې بې له دغو تجهیزاتو څخه راځي د آیساف د ځمکني او هوایي نقلیه وسایطو له لارې به د سفر اجازه ور نه کړل شي. ژورنالیستانو ته په جدي توګه سپارښتنه کیږي چې په ناوړه او له تاو تریخوالی څخه ډک چاپیریال کې تجربه او روزنه په لاس روارې او داسې هیله کیږي چې په مناسب ډول سمبال او ملبس اوسي. تاسو خپله د خپلو ټولو تجهیزاتو د لیږد مسؤلیت په غاړه لرئ او په دغه ټولګه کې د تجهیزاتو یو لست شامل دئ. په یاد ولرئ چې له نظامي تجهیزاتو سره سفر کول په ځینو هیوادونو کې (لکه عربي متحده امارات) منعه دی نو لدې کبله د سفر ترتیبات او یا د خپلو تجهیزاتو لیږد په مناسب ډول تنظیم کړئ. آیساف دغه تجهیزات ستاسې لپاره په لاس نه راوړي، نه یې ساتي او نه یې لیږدوي.

د ټولو هغو ریپوټ جوړونکو لپاره چې اړې ته ننوزي بیومتریکي طی مراحل (د ګوتې، سترګې اسکن ...) اړین ګڼل کیږي. دا د هغو رسنیو لپاره چې مخ کې په سیسټم کې ثبت نه وي یوه اوږده پروسه ده؛ نو لدې کبله د اړتیا په صورت کې دننوتلو پر مهال خپل پروګرام په بیومتریک سیسټم کې د ثبتولو لپاره د کافي وخت د اختصاص ورکولو له لارې تنظیم کړئ.

آیساف تاسې ته بیمه نه برابروي. ټولې هغه رسنۍ چې د لیدو لپاره راځي باید له دې چې د معتبرې صحي بیمې لرونکې وی (په ترجیحي ډول د جګړې د سیمو د پوښښ سره) اسناد وړاندې کړي او د آیساف تأسیساتو او عملیاتو ته د لاس رسی لپاره د خسارې د جبران یو تفاهم لیک او ابراء خط باید لاس لیک کړي.

رسنۍ همدا راز د پاسپورت او ځان لپاره د ویزې د لاس ته راوړلو مسؤلیت لري چې افغانستان د ننوتلو لپاره اړینه ګڼل کیږي.

د رسنیو د میشته کیدو په هکله د هر ډول پوښتنې یا اندیښنې د شتون په صورت کې هیله کیږي چې د آیساف ګډې قوماندانی د عامه چارو د اړیکو له دفتر سره د دغې انترنتې پتې له لارې ijc.embeds@afghan.swa.army.mil اړیکه ونیسی.

په درناوی،

//لاس لیک //

د رسنیو د میشته کیدو مسؤل خورد ضابط

د آیساف ګډه قوماندانی

د عامه چارو د اړیکو دفتر

# نړیوال سوله ساتي ځواکونه

# افغانستان

## **د رسنیو دنوم لیکنی فورمه**

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| تخلص: | د پیژنګلوی کارت شمېره:[1] | | | |
| نوم: | د پاسپورټ شمېره: | | | |
| دنده: | ملیت: | | | |
| دآژانس جزئیات (په مشرح ډول): | | | | |
| د آژانس پته: | | | | |
| سړک او شمېره: | دپوستي کود شمېره: | | | |
| ښار: | هېواد: | | | |
| تیلفون: | فکس: | | | |
| ګرځنده تیلفون: | بریښنا لیک: | | | |
| خپل د رسنۍ د فعالیت ډول په نښه کړئ: | تلویزیون(انځوریز) ☐ | چاپی ☐ | غږیز ☐ | انترنیتی ☐ |
| ستاسو د لیدلو نېټه: | | | | |
| کتني (ملاحظات): | | | | |
| ددي فورمي څخه اخیستل شوي مالومات یواځي د ناټو او دسولي مشارکت د عامه اطلاعاتو د موخو(PFP) لپاره دي. | | | | |

[1] تر کومه ځایه چي شوني وي تفصیل وراندي کړئ.
[2] یواځي د دفتر د استفادي وړ

# نړیوال سوله ساتي ځواکونه

# افغانستان

## د رسنیو د مېشت کېدو غوښتن پاڼه

1. د آیساف د ګډې قومندانۍ(IJC) د عامه چارو اړیکو د رسنیو د مېشت کېدو ټیم (ډله) دفتر د ټولو رسنیو د لیدني او د رسنیو د مېشت کېدو په اړه دځېرنو او پوښتنو لپاره د اړیکو یو مرجع ده.

2. <u>د غوښتنې بهیر:</u> د آیساف د ګډې قوماندانۍ د عامه چارو د اړیکو دفتر دې ته ډېر ارزښت ورکوي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چي لیدني کتنې د ژورنالستانو اړتیاوې بشپړوي. له همدې امله، مونږ د ژورنالستانو څخه د توان تر بریده مالوماتو ته اړتیا لرو تر څو وتوانېږو په بریا یوه لیدنه برابره کړو. پدې راتلونکې مخ کې د رسنیو د مېشت کېدو غوښتنه پاڼه د اړینو مالوماتو د راټولولو لپاره جوړه شوې تر څو وتوانیږو ستاسو د پوښښ اړتیاوو ته د واحدونو د وړتیاوو سره سمون ورکړو او ستاسې لیدنه ملاتړ کړو. ډک شوې غوښتن پاڼې باید د آیساف د ګډې قوماندانۍ دعامه چارو اړیکو دفتر ته د بریښنالیک له لارې چې د نومورې پاڼې په پای کې لیکل شوی، ولیږل شي.

3. د ډک شویو غوښتن پاڼو له رارسیدو پرمهال، د رسنیو د مېشت کېدو دفتر د آیساف د ګډې قوماندانۍ د رسنیو د لیدني / مېشت کېدو د پالیسۍ سره سم او د وړاندیز شوي واحد د وړتیا پر بنسټ د رسنیو دځای پر ځای کېدو غوښتل شوي مهال وېش پر اساس یادې شوې غوښتنې سره همغږه کوي. د رسنیو د مېشت کېدو دفتر به ستاسو د غوښتنې په بنه ډول د ترسره کولو په موخه له اړونده واحدونو سره د آیساف په سیمه ایزې قوماندانۍ کې ترتیبات نیسي. داړینې همغږۍ د بشپړېدو څخه وروسته تاسو به یو تآییدې خبرتیا د وروستیو لارښوونو په لرلو سره ترلاسه کړئ. **تر څو چي تاسي تاییدي خبرتیا تر لاسه کړې نه وي ستاسو لیدنه / مېشت کېدل شتون نه لري (مجاز نه دی)**

4. <u>د آیساف او د فغانستان اسلامي جمهوری دولت جواز ورکول:</u> ټولو رسنیو ته سپارښت کوو ترڅو د هغې بهیر له لارې چې پدې http://www.isaf.nato.int/media-visit-information.html انټرنیټی پاڼې کې توضیح شوی خپل جواز تر لاسه کړې. په یاد ولرئ چې رسنۍ مکلفې دي تر څو خپل ځانونه د افغانستان اسلامی جمهوری دولت سره هم په http://www.mfa.gov.af/media.asp. ویب پاڼې کې راجستر کړې.

**5.** <u>تجهیزات او بیمه:</u> **ټول کتونکې ژورنالستان باید خپلې ساتنیزې خولۍ او ځغرې له ځان سره ولري.** که کوم ژورنالیست پرته له دې تجهیزاتو څخه راشي نو په افغانستان کې د آیساف د ترانسپورټي وسایطو له لارې دسفر کولو اجازه نه ورکول کیږي. په یاد ولرئ چې په ځینې هیوادونو کې د نظامي تجهیزاتو (لکه ځغره) درلودلو باندې بندیز لږیدلی، له همدې امله دهغو هیوادونو پالیسۍ چې ستاسې د سفر په مسیر کې دي وارزوئ. ژورنالستانو ته په جدي توګه سپارښتنه کیږي چې په سختو او ستونزمنو سیمو کې د کار کولو تجربه او روزنه ترلاسه کړې او تمه ده چې په وسایلو سمبال اومناسبو جامو کې راشي.

**6.** ټول کتونکي ژورنالستان باید د شخصې، سفري او تجهیزي وسایلو د بیمې لرلو څخه ډاډ ترلاسه کړي. سپارښتنه کیږي چي دا پالیسۍ باید د جګړې، تخلیې، د مړي لیږدولو، او اوږد مهالي پاملرنې پوښښ په بر کې ونیسي. آیساف د بیمې خدمتونه نه وړاندې کوي.

**7.** که چیرې کومه پوښتنه یا اندیښنه لرئ نو د آیساف د ګډې قوماندانۍ د رسنیو د مېشت کېدو دفتر سره اړیکه ونیسی او لاندینی غوښتن پاڼه دې بریښنالیک ijc.embeds@afghan.swa.army.mil ته را واستوئ.

په درناوی،

//لاسلیک //

د رسنیو د مېشت کېدو دفتر، NCOIC

دآیساف د ګډې قوماندانۍ د عامه چارو د اړیکو دفتر

اپریل 2011

نړيوال سوله ساتي ځواکونه
افغانستان

## درسنيو د مېشت کېدو غوښتن پاڼه

| شخصي مالومات | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| تخلص | | نوم | | د زېږېدلو نېټه[1] | |
| مليت | | د پاسپورټ شمېره | | د پاى نېټه | |
| د اړيکي پته | | | | | |
| د برېښناليک پته | | | | | |
| د ټيليفون شمېره | | | | | |
| د ګرځنده تلفون شمېره[2] | | | | | |
| روغتيايي جزئيات | | | | | |
| ونه | | وزن | | دويني ګروپ | |
| معلوليتونه[3] | | | | | |
| ستاسو په آند، تاسي د زړه کومه ناروغي لرئ؟[4] | | | | | |
| آيا کومه بله ناروغي لرئ؟[5] | | | | | |
| د آژانس ځانګړتياوي | | | | | |
| نوم | | مليت | | د انترنيتي پاڼي پته | |
| د اډيټور / د رئيس نوم | | | | | |
| د اډيټور / رئيس د برېښناليک پته | | | | | |
| د آژانس پته | | | | | |
| د آژانس تر پوښښ لاندي اوريدونکي | | | | | |
| د خبريال ژوند ليک[6] | | | | | |
| | | | | | |
| هغه واحد سره چي غواړئ مېشت شي | | | | | |
| د مېشت کېدو دغوښتني نېټه | | د مېشت کېدو موده | | | |
| د اوسني يا پخواني مېشت والي تفصيل | | | | | |
| اړين ځاى | | | | | |
| د رسنۍ ډول[7] | | | | | |
| شخصي تجهيزات[8] | | | | | |
| آيا ساتنيزه خولۍ او ځغره د ځان سره لرئ؟ | | | | | |
| د مېشت کېدو موخه (موضوع، د ريپورټ اړخ او موخه ) | | | | | |
| | | | | | |

**دا فورمه په دې برېښناليک** ijc.embeds@afghan.swa.army.mil **واستوئ.**

1 د زېږېدلو نېټه
2 که امکان يې وي د افغانستان د ګرځند تلفون شمېره مو وليکی.
3 هغه معلوليتونه چي ستاسي د فزيکی فعاليتونو څخه د مخنيوي لامل وګرځي په ډاګه کړئ.
4 مهرباني وکړئ تفصيل ورکړئ.
5 هغه درمل چي تاسي يې کاروئ ورشامل کړئ.
6 د پخواني عکسونو اود مقالو لينک هم شامل کړئ.
7 چاپي، راديوئي، تلويزيوني، انځوريز يا نور ( مهرباني وکړئ مشخص يې کړئ)
8 د رسنيو ځانګړي وسايل او تجهيزات او دبکسونو شمېر او وزن مشخص کړئ.

# نړیوال سوله ساتي ځواکونه
# افغانستان

## دآیساف د رسنیو سیمه ایز قوانین

د آیساف د ځواکونو او مېشتو رسنیو د خوندیتوب او امنیت لپاره، رسنۍ باید لاندې جوړشوي ساحوي قوانین مراعت کړي. دا سیمه ایز قوانین د مېشتېدلو څخه وړاندې د رسنیو له خوا تائید او لاسلیکېږي. د دې سیمه ایزو قوانینو څخه سر غړونه، د مېشتېدلو د پای، د آیساف د رسنیو باورلیک د له منځه تللو او د عملیاتو د سیمي څخه د وتلو پایله به ولري. دا سیمه ایز قوانین، د رسنیو دا حق چي پوځي عملیات تر پوښښ لاندې راولي، په رسمیت پېژني او په هیڅ ډول پدې مانا نه ده چي د ضرر رسوونکي، شرموونکي، منفي او نه خوښېدونکي مالوماتو د خپرېدو نه مخنیوی وکړي. آیساف د ټاکل شوي کټګوریو مالوماتو د خپرېدلو څخه چي کېدای شي د دندې(ماموریت) جزئیات دښمن ته څرګند او د ملکي او پوځي کسانو ژوند له خطر سره مخ کړي، مخنیوی کوي.

د هر لاندیني قانون څخه سر غړونه د مېشت د پای ته رسېدلو پایله به ولري:

1. پرته له هغه رسنیو څخه چي د ملي پروګرامونو له خوا یي ملاتړ کیږي نوري ټولي رسنۍ د خپل پاسپورتونو او ویزو د اخیستلو او د عملیاتو سیمي ته د ننه کېدو د اجازې مسؤلیت پر غاړه لري. مونږ د هغو راتګ افغانستان ته د ملکي هوایي چلن له لارې سپارښتنه کوو تر څو د پاسپورت اړین مهرونه د رسېدو پر مهال تر لاسه کړي.د ورودي مهرونو څخه پرته، له افغانستان څخه وتل به و ځنډیږي. رسنۍ هڅول کیږي تر څو د پوځي واحدونو سره د مېشتېدلو څخه مخکي د ناروغیو د مخنیوي د مرکز د سپارښتني او وړاندیزونو پر بنسټ په مناسبه توګه د هېواد او سیمي لپاره روغتیایي مصونیت تر لاسه کړي.
2. د مېشتو رسنیو کارکوونکي باید د خپلو رسنیو باورلیک په ټولو وختونو کي په څرګنده توګه چي د لید وړ وي د ځان سره ولري.
3. د مېشتو رسنیو کارکوونکي په ممنوعه سیموکي د پوځي بدرګه کوونکي کس څخه پرته دننه نه شي.
4. د مېشتو رسنیو کارکووني د خپلو شخصي ساتنیزو وسایلو د کاروني او برابرولو مسؤل دي. دا وسایل باید لږ تر لږه ځغره او ساتنیزه خولۍ په بر کي ونیسي. وسایل او جامي باید خفیف او ځمکي ته ورته رنګ ولري، خو باید په ظاهر کي پوځي ډوله نوي (ستر او اخفا شوی نه وي).
5. د مېشتو رسنیو کارکووني د خپلو شخصي او مسلکي وسایلو لکه د مسلکي وسایلو لپاره ساتنیز بکسونه، بطرۍ، کېبلونه، د برېښنا د ولتاژ اړونکي، شخصي ساتنیزې وسیلي او داسي نورو څیزونو مسؤلیت لري. د هرې رسنۍ استازی د خپلو وسایلو د لېږدولو مسؤلیت پخپله پرغاړه لري.
6. کله چي رسنۍ د ناټو تر مشرۍ لاندې واحدونو سره استوګنه ولري، باید د هر هېواد پوځي دود ته درناوې وکړي (لکه د الکول کارولو بندیز، د جګړې غنایمو اخیستل او داسي نور).
7. د پوځي کارکوونکو سره ټولي مرکي په څرګند هویت تر سره کیږي. هغه پوځي کس چي مرکه ورسره ترسره کیږي د مالوماتو د خوندیتوب مسئولیت لري؛ خو د مرکي د اخسیتلو پرمهال باید پوځي کسانو ته د رسنیو له خوا د مرکي په هکله اطلاع ورکړل شي. پوځی کسان هر کله د مرکي د ردولو حق لري. د پوځي کسانو سره مرکه باید د پوځي دندو(ماموریت) د بشپړېدلو څخه وروسته تر سره شي، خو بیا هم د مالوماتو خپرول باید د رسنیو د سیمه ایزو قوانینو پر بنسټ تر سره شي.
8. د رسنیو له کارکوونکو څخه تمه کیږی تر څو د فعالیتونو او تحرکاتو په اړه لاربښووني تعقیب کړي.

9. د رسنیو استازي، مرستندویه کارکوونکي، پرودیوسران یا شخصي ساتنیزې ډلې د مېشت پرمهال نه شي کولای ځان سره وسله وګرځوي.

10. د محصولاتو نېټه د سیمه ایزو قوانینو سره سم ټاکل کېږي او مېشتو رسنیو ته وړاندې کېږي.

11. له پوځي ځواکونو سره د شپنۍ عملیاتو پر مهال د لید وړ رڼایي سرچینو، انفرارید وسیلو، د فلش او تلویزیوني رڼا په شمول د داسې نورو وسایلو کارول جواز نه لري، پواځې که ددې وسایلو کارول له وړاندې، په سیمه کې د حاضر قوماندان له خوا تآیید شوي وي. همدا رنګه رسنۍ باید تکتیکي حرکات او دشورماشور نظم د عملیاتو د پوښښ لاندې راوستلو پر مهال رعایت کړي.

12. د عملیاتي امنیت د ساتنې په موخه کېدای شي لند مهاله بندیزونه ولږېږي. دا بندیزونه د عملیاتي ستونزې د حلېدلو څخه وروسته ژر تر ژره لېرې کیږي.

13. مخابراتي وسایلو باندې ( لکه ګرځنده ټیلیفون) په ځانګړې توګه به پرې بندیز نه وي. که څه هم کېدای شي چې د واحد قوماندانان لنډ مهالي بندیزونه پر الکترونیکي ترانزمیترونو باندې د عملیاتي امنیت او د خطر د پیژندنې په موخه او یا که امنیتي وضعیت حکم وکړي، ولږوي.

14. د رسنیو کارکوونکو څخه تمه کیږي تر څو د محصولات د سپارلو په بر خه کې پر ځان بسیا واوسي. ځینې وختونه رسنۍ اجازه لري تر څو خپل رپوټونه د پوځي ارتباطي سیستمونو څخه په ګټې اخیستنې او د اړوندو هېوادونو د ملي قوانینواو د شته سیستمونو د محدودیتونو، په پام کې نیولو سره، واستوي. د رسنیو کارکوونکي په پوځي شبکو کې د خپلو شخصي کمپیوترونو او لیږدوونکي حافظو د نښلولو اجازه نه لري او باید په CD/DVD کې د ثبتولو توان ولري. د یادونې وړ ده چې د انترنت پر چټکتیا باندې محدودیتونه کېدای شي د ویدیویي فایلونو او د درندو فایلونود استولو پر وړتیا باندې هم محدودیتونه جوړکړي.

15. که د جزو تام د قوماندان په آند د رسنۍ یو استازی د فزیکي، رواني، دماغي او یا احساساتو له پلوه ونتوانېږي ترڅو دهغو شرایطو سره چې د اعزامي سرتېرو سره د عملیاتو د اجرا په موخه اړین دي، مقاومت وکولای شي، قوماندان یا د هغه استازی کولای شي چې د رسنۍ د استازي ونډه محدوده کړي، تر څو د جزوتام او د خبریال د ساتنې څخه ډاډ تر لاسه شي. شخړې باید د عامه اړیکو د دفتر د چینلونو لخوا څېړل کېږي. د عامه اړیکو دفتر به د یو ریښتینی منځګړي په توګه کارکوي خو د رسنیو د مېشت کېدو په موخه وروستی پریکړه د قوماندان لخوا کیږي.

16. د ناټو ځواکونه د رسنیو هر غړي ته چې د ناټو جزتامونو او واحدونو سره د مېشت پر مهال ټپي شي، بېړني روغتیایي خدمتونه د ناټو او یا اړوند هېواد د قوانینو پر بنسټ، د شته امکاناتو په حدودو کې وړاندې کوي.

17. که چېرې د عملیاتو په بهیر کې د رسنیو کوم غړی ټپي او یا ووژل شي، ناټو به د نوموړې استازي آژانس ته دمېشت د فورمې د مالوماتو څخه په ګټې اخیستنې سره، خبر ورکړي. دا ډېره اړینه ده چې د رسنیو استازي په داسې احتمالي حالاتو کې په ښکاره توګه ستاسو د غوښتنو په اړه خبرې و کړي. د نوموړې کورنۍ او نږدې خپلوانو ته اطلاع رسونه د اړوند آژانس مسؤلیت دی. د ټپي شوي او یا وژل شوي استازي د بېرته لېږدونې مسؤلیت د اړوندې رسنۍ چې نوموړی استازی ورته کار کوي، پرغاړه دی. هغه رسنۍ چې خپلواک ژورنالستان په کار ګماري باید دې مسؤلیت ته ځانګړې پاملرنه وکړي.

18. د عامه اړیکو د دفتر سیمه ایز مشر (CPAO) او د سیمه ایز قومندان د تصدیق پرته، د لاندینیو موضوعګانو څخه باید انځور اخیستنه و نه شي:

أ) ممنوعه پوځي سیمې، پوځي ودانۍ یا تاسیسات لکه د عملیاتو مرکزونه او سیمه ایز توقیفي سیمې او د واحد د نیوني مرکزونه.

ب) د نقشو، کشفي وسایلو، مخابراتي وسایلو او یا د ځای پر ځای شویو ماینونو ضد وسایلو / محاربوي الکترونیکي وسایلو انځورونه. تکتیکي نقلیه وسایطو ته باید پاملرنه وشي تر څو ډاډ تر لاسه شي چې د دې حساسو تجهیزاتو کټګوریو څخه انځور اخیستنه و نه شي.

ج) محرم سیستمونه، محرم تجهیزات او یا د هغوی غښتلتیا ښودل.

د) د عملیاتو په سیمه کې د الوتنې هرډول کړښې، او په سیمه او یا عملیاتو ته نږدې ځایونو کې د پوځي الوتکو فعالیت. ټول رسنۍ باید د مړو د لیږد د مراسمو په بهیر کې سیمه ایز قوانین څرنګه چې د هر رسم د ترسره کېدولو څخه مخکې لنډ توضیحات ورکول کیږي رعایت کړي.

19. لاندیني مالومات د خپرولو وړ نه دي.

أ) د سرتېرو د وړتیا او غښتلتیا په اړه ځانګړي مالومات، تجهیزات یا بحراني وسایل (لکه توپ ویشتونکي وسلې، رادارونه، لارۍ ګانې، اوبه او داسې نور).

ب) د مشخصو الوتکو شمېر په هغو واحدونو کې چې د هوایي قوماندانۍ تر مشرۍ لاندې کار کوي، او یا د ځانګړو ماموریتي الوتکو د الوتنې اصلي او مبدأ ځایونه؛ د اصلي مبدأ بیانول د "ځمکنۍ او یا د الوتکو لیږدونکي بېړیو هډې" په توګه د منلو وړ دي. د الوتکو شمېر او ډولونه کېدای شي په عمومي عبارتونو کې پرې تفصیل ورکړل شي لکه (لویه الوتنه)، (کوچنۍ الوتنه)، (ډېر)، (لږ) (جټ الوتکې)، (ثابت وزرې) او داسې نور.

ج) د واحدونو شمېر د عملیاتو په سیمه کې، پرته له هغې چې په مشخصه توګه د سیمه ایزې قومندانۍ د عامه اړیکو د مؤظفو کسانو او یا د آیساف د ګډې قومندانۍ په سطحه چې پکې د مېشتېدلو بهیر تر سره کېږي له خوا ورته اجازه وکړل شي.

د) د راتلونکیو، اوسنیو، ځنډېدل شویو او یا لغو شویو عملیاتو په اړه مالومات، پرته له هغې چې د سیمه ایز دفتر د عامه اړیکو د مشر له خوا ورته اجازه ورکړل شوې وي.

ه) د عملیاتو په بهیر کې، د ملګرو ځواکونو د سرتېرو د ځای د بدلون، د تحرکاتو او د تکتیکي استونو په اړه ځانګړي مالومات چې د عملیاتو امنیت او د کسانو ژوند له ګواښ سره مخامخ کوي. د جاري نښتو په اړه د مالوماتو د خپرولو اجازه نشته، پرته له هغې چې د جګړې د قوماندان له خوا ورته اجازه ورکړل شوې وي.

و) هغه انځور چې د امنیت کچه په پوځي تاسیساتو او یا پوځي هډو کې ښیي، په ځانګړې توګه هوایي او ستلایت انځور چې د واحدونو او یا پوځي ودانیو مشخص موقعیت اویا نوم ښیي.

ز) د پوځي تاسیساتو نوم او یا د پوځي واحدونو مشخص جغرافیایي موقعیت د عملیاتو په سیمه کې، پرته له هغې چې د آیساف له خوا په مشخصه توګه خپور شوی نه وي او یا د ګډې پوځي قومندانۍ د عامه اړیکو د ځانګې له خوا اجازه ورکړل شوې وي. دهغو خبرې او انځوریزو محصولاتو خپرول چې د پېژندنې وړ ځانګړتیاوې د نوموړو ځایونو په اړه د ځان سره لري او لېږدوي د خپرولو وړ نه دي.

ح) دجګړې د قوانینو په اړه تفصیل، او یا د پوځي ځواک د ګامونو او یا د ځواکونو د ساتنیزو ګامونو په اړه مالومات د پوځي تاسیساتو یا ودانیو په ګډون چه هغوی ته محدود نوي، پرته له هغو ګامونو چه د لید وړ یا په آسانۍ سره څرګند وي.

ط) د استخباراتو د اطلاعاتو د ټولولو د فعالیتونو په اړه مالومات چې د بریدونو موخې، میتودونه او پایلې په بر کې نیسي.

ي) د عملیاتو په پیل کې د رپوټ ورکولو پر مهال ډېره زیاته پاملرنه اړینه ده تر څو عملیاتي حیرانتیا لوړه شي. له همدې امله د مېشتو رسنیو کارکوونکو له خوا د هوایي ډګرونو څخه په ژوندیو خپرونو باندې، پرته له هغې چې د واحد قوماندان له خوا اجازه ورکړل شوې وي، بندیز دی.

ك) د ورک شویو کسانو یا ورک شویو حساسو تجهیزاتو او یا د غورځېدلي الوتکې په اړه مالوماتو باندې کله چې د پلټنې، ژغورنې او بیا موندنې عملیات د پلانېدو او پلیکدو په حال کې وي، پرته له هغې چې د عامه اړیکو د کارکونکو له خوا ورته په څرګنده ډول اجازه ورکړل شوې وي، بندیز دی.

ل) د دښمن د الکترونیکي جنګي وسایلو د اغېزمنتیا په اړه مالومات.

م) د ملګرو ځواکونو د الکترونیکي جنګي وسایلو په اړه مالومات، او یا د ملګرو ځواکونو له خوا د ځای پر ځای شویو چاودېدونکو توکو د لمینځه وړلو د کړنلارو په اړه مالومات، چې د دښمن لپاره د تکتیکي ګټې لامل ګرځي.

ن) د دښمن د ستر او اخفا، غولېدلو، نښه کولو، مخامخ او غیر مخامخ ډزو، د استخباراتي مالوماتو د راټولولو او د امنیتي ګامونو د اغېزمنتوب په اړه مالومات.

س) د توقیف شویو کسانو ویدیوګانې او انځورونه چې د هغوی د اوړو د پاسه (د مخې لخوا) ځانګړتیاوې په ډاګه کوي، د نوم لېبل او نور هر ډول ځانګړتیاوې چې د کسانو پېژندنه آسانه کوي، ممنوع دی. د ټولو توقیف شویو کسانو څخه انځور اخیستنه او د هغوی لیږد را لیږد د هغوی د حقوقو پر بنسټ تر سره او د ژنیف د کنوانسیون د 13 مادې پر اساس، هغوی باید د خلکو له کنجکاوۍ څخه په ډډه کې وي.

ع) مېشتې رسنۍ د توقیف شویو کسانو سره په مخامخه توګه د خبرو او مرکو اجازه نه لري.

ف) مېشتې رسنۍ د ځانګړو عملیاتي ځواکونو د قوماندانۍ او د آیساف د قوماندانۍ د استازي له مخکېنۍ هوکړې پرته، د ځانګړو عملیاتي ځواکونو او پرسونل او یا د هغو عملیاتو چې دوي یې تر سره کوي، د مرکې اخیستې، انځور اخیستنې، ویډیو اخیستنې او رپوټ برابرولو اجازه نه لري.

ص) هر هغه مالومات چې وخت په وخت د آیساف د قومندانۍ له خوا د عملیاتي اړتیاوو په موخه محدودیږي.

20. د لاندینیو کټګوریو مالومات د خپرېدلو وړ دي:

أ) د اوسني او یا پخواني هوایي عملیاتو په اړه د غیر حساسو او غیر محرمو مالوماتو خپرول.

ب) د ملګرو ځواکونو د ونډې کچه په یو فعالیت او یا عملیات کې کېدای شي چه د عمومي اصطلاحاتو په کارولو لکه (څو واحدیزه) روښانه کړل شي. د ځواکونو او یا واحدونو مشخص پیژند ګلوی هغه وخت ترسره کېدای شي چې د آیساف د قومندانۍ له خوا او د هغه د استازي له خوا اجازه ورکړل شي.

ج) د بشپړ شویو پوځي فعالیتونو او یا عملیاتو نېټه، وخت، او موقعیت او همدا رنګه د عملیاتو پایله.

د) د کارول شویو مهماتو نوم اخیستنه د عمومي اصطلاحاتو څخه په ګټې اخیستنې سره (لکه راکټ).

ه) د هوایي محاربو شمېر یا کشفي دندې او یا په عملیاتو کې ترسره شوې الوتنې.

و) د ګډون کوونکو ځواکونو ډول (لکه هوایي مدافعه، پیاده، ځغره لرونکې)، پرته له ځانګړو عملیاتي ځواکونو او ونډه اخیستونکو هېوادونو څخه.

ز) د دښمن د توقیف شویو او یا نیول شویو کسانو تأیید شوی شمېر.

ح) د پوځي موخو او هغو موخو په هکله مالومات چې مخکې تر برید لاندې نیول شوې.

ط) د ماموریتونو نېټه، وخت او موقعیت او مخکني پوځي فعالیتونه او همدارنګه د ماموریت پایلې، پدې شرط چې عمومي اصطلاحات کارول شوي وي د خپرولو وړ دي.

ي) د آیساف د پوځي واحدونو نومونه او هېوادونه.

ك) د سرتېرو نومونه او هېوادونه د سرتېرو د رضایت او خوښې پر بنسټ.

ل) کله چې توقیف شوي کسان خوشې شي او یا هم د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ته وسپارل شي د افغانستان اسلامي جمهوري دولت په اجازه به د رسنیو تر پوښښ لاندې راشي.

م) د خدمتونو پر بنسټ د ملګرو ځواکونو د مرګ ژوبلې د شمېر اټکل. مېشتې رسنۍ کېدای شي د عملیاتي امنیت د محدودیتونو له امله د واحد مرګ ژوبلې چې دوی د هغه شاهدان ول، تأیید کړي.

21. لاندېنی کړنلارې او پالېسی د ټپي او ژوبل شویو او نارغو کسان لپاره د پلي کېدو وړ دی. په هغه شرط چې که د کوربه واحد د عامه چارو دفتر، او یا قوماندان کوم بل ډول هدایت ورنه کړي.

أ) مېشتې رسنۍ باید د هغو ملي پالېسیو چې د وژل شویو او یا ټپي شویو سرتېرو د نوم او هویت د ښودلو لپاره ټاکل شوي دي، درناوی وکړي. ملي پالېسی جلا دي او ددې سند د موضوع څخه دباندې دي. د رسنیو هغه کار کوونکي چې د ائتلافي ځواکونو د مړینې او یا ټپي کېدلو شاهد وي، د دې ځواکونو هویت په ویدیویي، انځوریز، شفاهي، او یا په لیکني توګه تر هغه پورې نشي کولای څرګند کړي تر څو چې اړوند هېواد، د وژل شوي او یا ټپي شوي کس نږدی خپلوانو ته خبر نه وي ورکړی. ځواکونه، د خبري رسنیو استازي د مرګ ژوبلې د لیدو او انځور اخیستنې څخه نه منع کوي. د مرګ ژوبلو هغه انځورونه چې څېره د پېژندنې وړګرځوي، د نوم لېبل او یا نور هغه څېزونه چې د پېژندنې لامل و ګرځي د خپرولو اجازه نه لري، پرته له هغو پنځو مواردو څخه چې لاندې راغلي دي. د مشورې اخیستنې لپاره رسنۍ باید د عامه اړیکو دفتر سره اړیکه و نیسي.

ب) رسنۍ د مرګ ژوبلو د پوښښ راوستلو څخه منع نه دي خو په دې شرط چې لاندیني شرطونه پلي کړي:

1) د ټپي شویو سرتېرو نوم، ویدیو، د پېژندنې وړ کتبي او شفاهي تشریحات، او یا د سرتېرو د پېژندنې وړ انځورونه، پرته له مخکینۍ کتبي هوکړې څخه خپرېدای نه شي. که چېرې سر تېرې د ټپي کېدو له امله مړ شي، په دې حالت کې د اطلاع رسونې د قوانینو له پلي کولو څخه وروسته، د هغه نږدې خپلوانو ته اطلاع رسول د خپرولو وړ دی.

2) د روغتیایي تاسیساتو څخه د رسنیو لیدنه جواز لري او دا لیدنې باید د اړوندو هېوادونو د مقررو، معیاري عملیاتي کړنلارو، د عملیاتو لارښوونو او د موجوده داکترانو د لارښوونو سره په سمون کې ترسره شي. که چېرې د لیدلو اجازه ورکړل شي نو دځواکونو یا د روغتیایي تاسیساتو غړي د لیدنې په هر وخت کې، باید له رسنیو سره ملتیا وکړي.

3) د ناروغ هوساینه، محرمیت او د نږدی خپلوانو او کورنۍ ملاحظاتو څخه مطلب ، د رسنیو له خوا په ټولو روغتیایي او د مړو د راټولولو او معالجې په مرکزونو کې د ټپي شوي پرسونل، زخمي او ناروغو کسانو د تر پوښښ لاندې راوستلو، حاکمې اندېښنې دی.

4) له ناروغ سره مرکه او انځور اخیستنه یوازې د موجود داکټر او د مرکز د قوماندان په رضایت او د ناروغ د باخبرې هوکړې او د بدرګه کوونکي په شاهدۍ سره تر سره کېدای شي. "باخبره هوکړه " په دې مانا ده چې ناروغ پوهاوی ولري چې دهغه انځور او نظریې، د خبري موخو لپاره را ټولیږي او کېدای شي چې دا نظریې په خبري رپوټونو کې خپرې شي.

5) مېشتې رسنی نشي کولای د هغو کسانو هویت او نوم چې د مخالفو ځواکونو کسان وژني او یایي ټپي کوي، پرته د آیساف د قومندانۍ د مخکني هوکړې څخه رپوټ ورکړي.

نړیوال سوله ساتي ځواکونه
افغانستان

**د رسنیو د میشته کولو او سیمه ایزو قوانینو هوکړه لیک**

زه، (نوم) ________________________________ ، تصدیقوم چې لاندني معلومات دقیق دي:

الف: "زه له هیڅ ډول شته فزیکی یا روغتیایي ستونځو څخه پوهاوی نلرم چې ښایي په سختو فعالیتونو کې زما پر ګډون بandي ناوړه اغیزه وکړي." _______ (د نوم لمړني توري)

ب: " ما د رسنیو سیمه ایزه قوانین چې د نړیوال سوله ساتي ځواکونو(آیساف) د عامه اړیکو د کارکوونکو له خوا برابر شوي وه ولوستل او خپل د لاسلیک په وسیله هوکړه کوم چې ددې قوانینو څخه به مطابعت کوم. او همدا رنګه پوهیږم چې له دې قوانینو څخه هر ډول سر غړونه د یو رسني د غړي په توګه د آیساف سره زما د مېشته والي د تړون د فسخ کیدو لامل ګرځي." ___________ (د نوم لمړني توري)

ج: " زه پوهیږم هغه قوماندانی چې زما د میشت کوربه توب کوي کولای شي چې زما میشته شوي رسنی وضعیت فسخ کړي، زما د مېشتوالي په اړه وروستی پرېکړه د آیساف د ګډې قومندانی د عامه چارو د افسر له خوا نیول کیږي." __________ (د نوم لمړني توري)

| | |
|---|---|
| لاسلیک ________________________ | نېټه ________________ |
| د سترګو اسکن (IRIS) تر سره شو | |
| وخت ________________________ | نېټه ________________ |
| د آیساف لخوا د شاهد لاسلیک، نوم، رتبه ________________________ | نېټه ________________ |

نړیوال سوله ساتي ځواکونه
افغانستان

**رسنیو ته د آیساف لخوا برابر شوی د زیانونو د جبران هوکړه لیک او برائت لیک**

1. ددې موضوع په پام کې نیولو سره چې ____________________
(د رسنی نوم) اجازه ورکړل شي ترڅو رسنیز استازي د میشتي رسنی په صفت د نړیوال سوله ساتي ځواکونو سره د ________ نېټي یا شاوخوا څخه تر ________، ____ 20 نېټي او یا ددې شاوخوا پورې په ____________ او دهغه شاوخوا سیمه کې، ثبت شي.
2. دا تصدیق اوتأییدوي چې د جګړې او نورو پوځي عملیاتو تر پوښښ لاندې راوستل، په ذاتي ډول د ګواښونو څخه ډک دی او کېدای شي چې د مړیني، ټپي کېدو، ځاني یا بل ډول زیان او درسنیو د وسایلو د ویجاړېدو سبب شي، او په هرحال دا رسنی لېواله ده چې په خپله خوښه خپل کارکوونکي د جګړې او یا نورو پوځي عملیاتو په پوښښ کې د ګډون لپاره ولیږي، په خپله خوښه رضایت لري ترڅو د هر ډول ګواښونو مسؤلیت چې کېدای شي د ګډون پرمهال ورته پېښ شي، پخپله غاړه واخلي. ____________ (درسنی نوم) ژمنه کوي چې د استازي نږدې خپلوانو ته خبر ورکړي چې د آیساف له خوا میشته شوی یا ورته اعتبار لیک ورکړ شوی. آیساف وژل شوی یا ټپي شوی استازی (وروسته له لمړنی مرستي) نږدی سوداګریز ترانسپورتي مرکز ته لېږدوي خو د جسد د بېرته لېږدوني او یا د ټپي شوي استازو د بېرته استوني مالي لګښت د____________ (د رسنی نوم) په غاړه دی.
3. تصدیق، تائید اوڅرګندوي چې ____________ (د رسنی نوم) ته د جګړې او نورو پوځي عملیاتو تر پوښښ لاندې راوستلو د ماهیت په هکله خبرداری ورکړل شوی او د تطبیق وړ کړنلارو او خوندیتوب ګامونو په اړه ورته پوهاوی ورکړ شوی او د دوی استازي ژمنه کوي چې د دغو کړنلارو او ګامونو څخه به مطابعت کوي.
4. تصدیق، تائید اوڅرګندوي چې ____________ (د رسنی نوم) ته پوهاوی ورکړل شوی چې آیساف خپل د ماموریت د بریالیتوب لپاره د استازي او د دې رسنی د وسایلو د ساتنې تضمین نشي کولای.
5. د ناټو، ګډې عملیاتي قومندانی (Allied Command Operations)، د متحدو قدرتونو عالي مقر(SHAPE) په اروپاکې، آیساف، د آیساف د ماموریت د ملاتړ په موخه د سرتیرو رالیږدونکي هیوادونو حکومتونو او پوځي څانګو او د یاد شویو سازمانونو پوځي پرسونل او ملکي کار کوونکو، د آیساف د ماموریت په موخه په دندو ګمارل شوي ملکي قراردادیانو په وړاندې د هر ډول او هر ماهیت ادعاو څخه، چې د ځان او شتمنی زیان په برکې نیسي خو ورته محدود شوې نوي چې په هر حال کې زما د ګډون په پایله کې، پر بنسټ یې، له امله یې، په نسبت یا په تړاو یې د میشتي رسنی په صفت، د جګړې او یا نورو پوځي عملیاتو د پوښښ لاندې راوستلو په موخه رامنځته کیږي، برائت ورکوي:

أ. ____________ ( د رسنی نوم ) هوکړه کوي چې د هیڅ چا په وړاندې، هیڅ ډول عمل یا ګام به پورته نکړي چې د ناټو، د متحدو عملیاتو قومندانی ( Allied Command Operations)، د متحدو قدرتونو عالي مقر په اروپا کې (SHAPE)، آیساف، د آیساف د ماموریت د ملاتړ په موخه د سرتیرو رالیږدونکي حکومتونو او پوځي څانګو او د یاد شویو سازمانونو پوځي پرسونل او ملکي کار کوونکو، د آیساف د ماموریت د ملاتړ په موخه په دندو ګمارل شوي ملکي قراردادیانو په وړاندې د زیان د جبران د ادعا لامل وګرځي.

برائت لیک، د ټولو ۲ مخونو دوهم مخ ______________ (د رسنی د استازي د نوم لمړنی توري)

ب. ___________________ (د رسنی نوم) تصدیق، تائید او څرګندوي چې، ددې هوکړه لیک لاسلیکول د آیساف د عملیاتو د تر پوښښ لاندې راوستلو او د مرستو د ترلاسه کولو په موخه د راجستر کېدو لپاره یو شرط دی؛ او

ج. تصدیقوي چې دا برائت لیک یې په بشپړه توګه لوستی او پوهېږي چې دا برائت لیک جامع او ټول اړخونو په برکې نیسي تر څو د هر ډول ادعاوو څخه مخ نیوی وشي ___________________ (د رسنی نوم) زما د لاسلیک په وسیله په خپله خوښه د دغه سند منل څرګندوي.

**نېټه:** ځای______________________ ورځ______ میاشت______ کال________

| |
|---|
| (نوم) |
| (د رسنی پته) |
| (تیلفون) |
| (ګرځنده ټیلیفون) |
| (بریښنالیک) |

__________________________      __________________

د رسنی د رئیس لاسلیک      نېټه

نړیوال سوله ساتي ځواکونه
افغانستان

**رسنیو ته د آیساف لخوا برابر شوی د زیانونو د جبران هوکړه لیک او برائت لیک**

1. زه ______________________ (نوم) د خپل، خپل د وارثینو، خپل آمرینو او رئیسانو په استازي توب، ددې موضوع په پام کې نیولو سره چې اجازه ترلاسه کړم ترڅو د یوې معتبرې رسنی د غړي په توګه د نړیوال سوله ساتي ځواکونو سره د (نن ورځې نیټه) ____________ په افغانستان کې ثبت شم:
2. تصدیق اوتأییدوم چې د جګړې او نورو پوځي عملیاتو تر پوښښ لاندې راوستل، په ذاتي ډول د ګواښونو څخه ډک دی او کېدای شي چې د مړیني، ټپي کېدو، ځاني یا بل ډول زیان او درسنیو د وسایلو د ویجاړېدو سبب شي، او په هرحال کې لېواله یم چې په خپله خوښه د جګړې او یا نورو پوځي عملیاتو په پوښښ کې ګډون وکړم، په خپله خوښه رضایت لرم ترڅو د هر ډول ګواښونو مسؤلیت چې کېدای شي د ګډون پرمهال راته پېښ شي، پخپله غاړه واخلم. زما د نږدی خپلوانو پته زما اړونده سازمان ته برابره شوې تر څو د مړیني یا ببړني روغتیایي حالاتو کې وکارول شي.
3. تصدیق، تائید اوڅرګندوم چې ما ته د جګړې او نورو پوځي عملیاتو تر پوښښ لاندې راوستلو د ماهیت په هکله پوهاوی راکړل شوی او د تطبیق وړ کړنلارو او د خوندیتوب ګامونو په اړه راته مالومات راکړل شوي او زه هوکړه کوم چې د هغو څخه به مطابعت کوم.
4. تصدیق، تائید او څرګندوم چې پوهاوی راکړل شوی چې آیساف په بریالیتوب خپل د مأموریت د تر سره کولو لپاره زما د ځان د خوندیتوب او زما د وسایلو د ساتني ضمانت نشي کولای.
5. تصدیقوم چې د اعتبار وړ روغتیایي بیمه لرم او په دې باندې پوهاوی راکړل شوی چې آیساف دا سپارښتنه کوي چې زما د بیمې پالیسی باید لړتر لړه د جګړه ایز حالاتو ، تخلیه، د اجسادو لیږدول او اوږد مهاله پاملرنې پوښښ په بر کې نیسي.
6. زه به د آیساف رسنیزه پېژند پاڼه خپل د ځانګړې مېشته شوې وضعیت په پای کې یا هم کله چې د آیساف د استازي لخوا وغوښتل شي، بېرته وسپارم.
7. د ناټو، ګډې عملیاتي قومندانی (Allied Command Operations)، د متحدو قدرتونو عالي مقر(SHAPE) په اروپاکې، آیساف، د آیساف د ماموریت د ملاتړ په موخه د سرتیرو رالیږدونکې هیوادونو حکومتونو او پوځي څانګو او د یاد شویو سازمانونو پوځي پرسونل او ملکي کار کوونکو، د آیساف د ماموریت په موخه په دندو ګمارل شوي ملکي قراردادیانو په وړاندې د هر ډول او هر ماهیت ادعاو څخه، چې د ځان او شتمنی زیان په برکې نیسي خو ورته محدود شوي نوي چې په هر حال کې زما د ګډون په پایله کې، پر بنسټ یې، له امله یې، په نسبت یا په تړاو یې د میشتې رسنی په صفت، د جګړې او یا نورو پوځي عملیاتو د پوښښ لاندې راوستلو په موخه رامنځته کیږي، برائت ورکوم:

أ. هوکړه کوم چې د هیڅ چا په وړاندې، هیڅ ډول عمل یا ګام به پورته نکړم چې د ناټو، د متحدو عملیاتو قومندانی (Allied Command Operations)، د متحدو قدرتونو عالي مقر په اروپا کې (SHAPE)، آیساف، د آیساف د ماموریت د ملاتړ په موخه د سرتیرو رالیږدونکې حکومتونو او پوځي څانګو او د یاد شویو سازمانونو پوځي پرسونل او ملکي کار کوونکو، د آیساف د ماموریت د ملاتړ په موخه په دندو ګمارل شوي ملکي قراردادیانو په وړاندې د زیان د جبران د ادعا لامل وګرځي.

برائت لیک، د ټولو ۲ مخونو دوهم مخ ____________ (د رسنی د استازي د نوم لمړنی توري)

ب. تصدیق، تائید او څرګندوم چي زما پوسیله ددې هوکړه لیک لاسلیکول د آیساف د عملیاتو د تر پوښښ لاندې راوستلو او د مرستو د ترلاسه کولو په موخه د راجستر کېدو لپاره یو شرط دی؛ او

د. تصدیقوم چي دا برائت لیک مې په بشپړ ډول لوستی او پوهېږم چي دا برائت لیک جامع او ټول اړخونو په برکې نیسي تر څو د هر ډول ادعاوو څخه مخ نیوی وکړي، زه خپل د لاسلیک پوسیله په خپله خوښه د دغه سند منل څرګندوم.

**نېټه:** ځای ___(خیل د سازمان نوم ولیکی)___ ورځ ______ میاشت ______ کال ________

| د رسنی د استازي سازمان: | د آیساف د غړي/ شاهد لاسلیک |
|---|---|
| (نوم) | (نوم) |
| (پته) | (رتبه، واحد / سازمان)<br><br>د آیساف ګډه قوماندانی/ د عامه چارو دفتر |
| (ټیلیفون) | (ټیلیفون)<br><br>+93 079 951 3999 وروسته 4209 -688 یا 4218 |
| (ګرځنده ټیلیفون) | (ګرځنده ټیلیفون)<br><br>+93 079 401 3643 |
| (برېښنالیک) | (برېښنالیک)<br><br>**IJC.EMBEDS@afghan.swa.army.mil** |

________________________ ________________

د رسنی د استازي لاسلیک نېټه

# نړیوال سوله ساتي ځواکونه

# افغانستان

## د رسنیو د تجهیز لاربنود

1. افغانستان ته د رارسېدو پرمهال، ټولې رسنۍ باید ډاډ ترلاسه کړي چې لاندیني وسایل له ځان سره لري:
   - ساتنیزه خولۍ او د مرمۍ ضد واسکټ (دا وسایل اړین دي – هر هغه ژورنالیست چې پرته له دې وسایلو څخه راشي ددې اجازه به تر لاسه نه کړي چې د آیساف له ترانسپورټ څخه په ګټې اخیستنې سره په کابل او یا د عملیاتو په سیمه کې سفر وکړي.
2. د مېشت کېدو د مودې لپاره دلاندینیو وسایلو سپارښتنه کیږي:
   - د سترګو ساتنیزه وسیله (ساتنیزې عینکې یا نه ماتیدونکې عینکې)
   - د مېشت کېدو پرمهال د هوا حالاتو لپاره مناسبې جامې
     – د ځینو غرنیو سیمو د هوا حالات په آسانۍ سره د ۵۰ درجو فورنهایت څخه لوړیږي
     – د لاندینۍ انټرنیټي پاڼې څخه د خپل سفر په پلان جوړونه کې د مرستې لپاره لیدنه وکړئ

     http://www.theweathernetwork.com/weather/intcitiesintl_en/
   - چړیکې بستره
   - د جګړې چاټته / د شا چاټته
     – د جامو بکسونه او یا هغه بکسونه چې د جګړې په سیمه کې په آسانۍ نه لیږدول کیږي د ځان سره مه راوړئ.
     – د ټولو رسنیو کارکوونکو څخه تمه ده چې خپل وسایل او جامې پخپله ولیږدوي کړي.
   - د اوبو پتک، د اوبو بوتل، یا د هایدریشن سیستم
     – باید د ځان سره ولرئ، آن د ژمي په میاشتو کې
     – د اوبو تصفیه کول اړین نه دي؛ ډیري کمپونه بوتلي اوبه لري خو لرې پراته کمپونه به ګډه څښلو اوبو سرچینه ولري.
   - مناسبې جامې
     – هغه جامې د ځان سره راوړئ چې خفیف رنګ یا ځمکې ته ورته رنګ ولري او د ګرمې لپاره مناسب وي او دا جامې باید داسې پټې ولري چې په اسانۍ سره واغوستل او وایستل شي. د خپل مېشت کېدو په موخه کافي جامې د ځان سره ولرئ او تمه مه لرئ چې د مېشت کېدو په موده کې به د خپل د اړتیا وړ څیزونو د پیرودلو توان ولرئ.
     – **نظامي ډوله جامې یا یونیفورمونه (بشپړ یا قسمي) جواز نه لري.**
     دا ستاسو د ساتنې لپاره دی، د داسې یونیفورم اغوستل چې تاسې د یو نظامي سازمان د غړي په توګه وربیژني، ستاسو پیژندنه د یو غیر نظامي کس په توګه ستونزمن کوي.

- د اوبو ضد بوټان
  – ستاسو بوټان د ګرمۍ لپاره اړین دي. هغه باید ارامه او د غرنیو سیمو لپاره دوامداره وي.
- باراني جامې
  – تاسو ته سپارښتنه کیږي چې بشپړې جامې د باراني هوا لپاره د ځان سره راوړئ.
- د سړې هوا جامې
  – د ژمي په میاشتو کې د تودوخې درجه د کنګل درجې څخه راټیټیږي. (اکتوبر - اپریل)
- لاسي څراغ (د تندي څراغ) د سور لنز او اضافي بټریو سره.
- د راپور ورکولو اړین وسایل.
- شخصي روغتیایي او طبي اړین وسایل دلاندینیو په ګډون:
  – د لومړنیو طبي مرستو یوه ټولګه
  – د حشرو له منځه وړونکي
  – د لمر ضد کریم
  – د شونډو غوړ
  – د شاور بوټان / څپلی او مخپاک
- د جامو مینځلو کڅوړه
- په ځینو لویو هډو کې د جامو مینځلو آسانتیاوې شته دي خو په ځینو کوچنیو هډو کې د جامو مینځلو اسانتیاوې نشته.
- غوږ ساتونکي ( د غوږ پلګونه)
- د برېښنا ظرفیت لوړونکي دستګاه چې د برېښنا ۱۱۰ او ۲۲۰ ولټ د ګټې اخېستنې وړ ګرځوي.

3. هغو سیمو ته چې ځئ او د کال فصلونه او سیمه په پام کې و نیسئ.

- د ژمي په میاشتو کې شپې ډېرې سړې او ورځې یې متوسطې او یا هم ډېرې سړې وي. څومره چې سیمه غرنۍ وي په هماغه اندازه امکان شته چې هوا سړه وي
- د پسرلي موسم د سړې او لمدې هوا سره پیل او د تودې او نمجنې هوا سره پای ته رسیږي.
- د دوبي میاشتې د شپې او هم د ورځې په اوږدو کې تودې، ککړې او وچې وي.
- په مني کې هوا تر پایه پورې سړه او وچه وي، د ا هغه وخت دی چې واوره وربدل په غرونو کې پیلیږي او د تودوخې درجه په چټکۍ سره ټیټیږي.

4. یو انعکاسي (شوبین) ملابند ته کېدای شي په ځانګړو تآسیساتو کې اړتیا پیدا شي.
5. د خپل د ویني ګروپ په اړه باید پوه شئ. د رسنیو استازو ته سپارښتنه کېږي چې روغتیایي لېبلونه، چې ستاسو د ویني د ګروپ، حساسیتونو او هر هغه روغتیایي وضعیت چې کېدای شي ستاسو په بدن کې شتون ولري ښکارندویې کوي، واغوندي.
   - په کلکه ټینګار کیږي چې د لاندینیو ناروغیو په وړاندې باید واکسین شوي اوسئ:

   معیاري واکسینونه: دیفتري، شری، کله چرک، توره ټوخله، ګزن، روبیلا، تیتانوس، د A H1N1 انفلونزا

   نور واکسینونه: محرقه، زیړی، تور زیړی، د سحایاو التهاب (مننګوکوک مننژیت) څلور ګونی واکسین، انفلوینزا

6. ژورنالستانو ته په کلکه سپارښتنه کېږي چې په سختواو ستونزمنو سیمو کې د کار کولو تجربه او روزنه ترلاسه کړي او د دغه رنګ حالتونو لپاره په مناسبو وسایلو سمبال اومناسبو جاموکې راشي.
7. ټول کتونکي ژورنالستان باید د سفري او تجهیزي وسایلو د بیمې لرلو څخه ډاډ ترلاسه کړي، او د روغتیایي بیمې ثبوت وړاندې کړي. آیساف د بیمې خدمتونه نه وړاندې کوي. آیساف د سپارښتنه کوي چې ستاسې پالیسي

باید لړترلړه د لاندینیو څیزونو پوښښ په بر کې ونیسي: د جګړې؛ تخلیې، د مړي د لېږدولو، او اوږد مهالې پاملرنې په وخت کې.

**یو مهم یادداښت:**
که د جزو تام د قوماندان په آند د رسنی یو استازی د فزیکي، رواني، دماغي او یا احساساتو له پلوه ونتوانېږي ترڅو دهغو شرایطو سره چې د اعزامي سرتېرو سره د عملیاتو د اجرا په موخه اړین دي، مقاومت وکولای شي، قوماندان یا د هغه استازی کولای شي چې د رسنی د استازي ونډه محدوده کړي، تر څو د جزوتام او د خبریال د ساتنې څخه ډاډ تر لاسه شي. شخړې باید د عامه اړیکو د دفتر د چینلونو لخوا څېړل کېږي. د عامه اړیکو دفتر به د یو رینتینی منځګړي په توګه کارکوي خو د رسنیو د مېشت کېدو په موخه وروستی پریکړه د قوماندان لخوا کیږي.